# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| مسائل ایدئولوژیک | Ideological |
| --- | --- |



درویش وردک

۱۶ دسمبر ۲۰۱۶

# نه پنځوسم مجلس( په غوړمالی نه کولوکی)

دجمعی په ورځ د ۵۴۵ هجری قمری کال درجب په نهمه ، شیخ عبدالقادر(رضی الله تعالی عنه) داسی وفرمایل:
دحریص اوطمع لرونکی انسان وینا له تملق اومداحنی څخه خالی نه وی. کلام یی تول پوستکی پرته له مغزه دی، اوله معنی څخه تش صورت دی. طمعکار له حقیقت څخه لیری دی، همداسی لکه چی دطمع حروف له نقطی څخه بی برخی ده.

ای دخدای بندګانو په خپلو اعمالو اوکړو کی صدق اوراستی ولری، ترڅو رستګارشی. صادق دلوړ همت درلودونکی دی، دچا په ونیا نه فریفته کیږی.

متعال خدای په هرڅه چی اراده وفرمایی قادراوتوانادی، اوهرکله که دیوه کاردترسره کولو قصد ولری دهغی وسایل اوعوامل هم فراهم کوی.

ستاسو رینتیا ما په خبرو راولی اودروغ مو ما سکوت ته واداره کوی. په هراندازه چی تاسوطالب(غوښتونکی) اوسی په هماغه اندازه زه راهنمایی او ارشاد کوم.

(ای دخدای بنده) که دعلم له برکاتوڅخه یوه کمه اندازه ولری، هیڅکله به دنفس دحظ اودشهواتودارضا لپاره دسلاطینو په دروازوکی ملازم نه وی،ځکه عالم پرته له خدایه بلی دروازی ته پښی نلری، اودنوروله لاس نیوی نه زاهد دی، اودخدای رینتینی محب اومینه وال هم نورو ته دکتو سترګی نلری، صادق محب داسی دی چی که تول مخلوق یی دسترګومخ ته حاضرشی، پرته له خپل محبوبه بل څه ته نه ګوری، دنیا یی په نظرکی قدرنلری اودزړه په سترګوکی یی آخرت هم وزن نلری، اوبالاخره پرته له مولاڅخه یی په نظرهیڅ شی ارزښت اومقام نلری.

عاقل اوسی، (لید، عقیده اوځواک) موپربنسټ ندی ولاړ، ډیری له تاسو دبی معنی ویناو څخه پیروی کوی، داکثرمتکلمینو کلام یوازی په ژبه دی اودزړه له رینتینوالی لیری دی. دمنافق دوینا طنین په ژبه دی، ولی دصادق وینا له زړه څخه سرچینه اخلی، دصادق زړه دحق په درګاه ملازم دی، اوسراوباطن یی قرب ته وصل شوی، اوهغه دحق په دروازه ملازم زړه تل دننوتو اجاذه غواړی. ولی ته دروغجن یی، په هیڅ یوه حال کی صادق نه یی، اودحق خواته لاره نلری. ته ړوند یی اوځرنګه کولای شی چی دبل لارښوونه وکړی؟ کوم څه ته ړوند کړی یی؟ دنفس هوا، دشهواتو څخه پیروی، ددنیا حب ته دغه ړوندتوب ته کش کړی یی، راشه اوترکومه چی دغه ړوندتوب په ظاهرکی

دی، معالجه یی کړه اوکه نه دباطن ړوندتوب ته به واوړی،اودګناهونو په کولوبه دی وګماری اوپه پای کی به دی کفرته وباسی.
دهرچاچی طاعت اوعبادت خاص دخدای لپاره وی، دحق پروړاندی به دقدراومنزلت خاوندوی، اوتل به دهغی فرمان ته غاړه ایښونکی وی. دموسی (علیه السلام) اویا تنه صحابه دحق دخطاب اوریدولپاره غوره شول، اوکله چی یی خطاب واورید، ټول بی هوښه شول، اویوازی موسی علیه السلام هوښیارپاته شو ترڅو دحق خطاب ته غوږشی، کله چی اصحاب په هوښ راغلل وویل : مونږ دحق دکلام داوریدو توان نه درلود، ته ای موسی زمونږ اوربّ العزت ترمنځ واسطه شه. موسی علیه السلام ورته دحق خطاب واوراوه. ولی موسی علیه السلام دحق دکلام په اوریدو قادرو اونورنه و؟ مسلما دایمان دقوت په وجه ، په خالصانه عبادت اوریښتینی بندګی سره توانمندو، اونورد‌ایمان دکمزورتیا له امله دحق دکلام په اوریدو توانمند نه و، که هغه څه چی موسی علیه السلام دوی ته ابلاغ کړی و، په حقیقت سره اوریدلی اوعمل یی پری کړی و، اودخدای اوامراونهی یی اطاعت کړی وای، دوی به هم دحق دکلام داوریدوځواک درلودای.
همدارنګه شیخ( رضی الله تعالی عنه) وفرمایل: زه په ټولو دروغجنو منافقینو اودحق داوامروپه عاصیانو مسلط یم، ددی عاصیانو امیر ابلیس اوکوچنی یی فاسق شخص دی. زه دټولو ګمراهانو اوګمراه کوونکو چی باطل ته دعوت کوی، دښمن یم،اوداکارپه خپل ځواک اوقوت په تکیه کولو سره نه کوم، بلکه دمتعال خدای قدرت اوارادی ته تکیه کوم.
ای منافقه، پوه شه چی نفاق دی په زړه کی ریښی کړی، لازمه ده چی ډیرژرتوبه وباسی اوله ریاء اونفاقه لاس واخلی. پوه شه هغه څه چی زه یی وایم، که دخدای له جانبه و، داسی ځواک دی چی دخدای په قدرت اوتوان سره عمل کوی، دقدرت په وزرو الوزی، دزړونو کورونو ته دننه کیږی، اودمعنی اوضمیر کتنه کوی، که دنفس له هوا اوشیطان څخه وی، له حقیقته تش دی اوژربه ذوب(ویلی) شی، تیت اوخپاره به شی، اوریښی به یی وچی شی، څکه متعال خدای هیڅکله دروغجن نه تائیدوی، اودمنافق یارندی، اودشکرپه تارک اومنکرهم کوم عنایت نه کوی.هرڅوک چی دنفس په واسطه وګمارل شی، کوم ځای اوشی ته ندی رسیدلای، بلکه نفاق به یی ددین دسوزیدو سبب وګرځی.
ای مریدانو، ما چی کوم څه لازم و، وویل، ولی تاسو تیښته کوی،اوپه هغی عمل نه کوی.دروغ مه وایی، په هیڅ سینه کی دوه زړونه وجودنلری، بلکه هرکس یوزړه لری، اوهرکله که دیوه څه په مینه اوحب باندی ډک شوی، طبعا بل شی پکی ځای نلری.
متعال خدای فرمایلی دی: (مَاجَعَلَ اللهُ لِرَجُلٍ مَنْ قَلْبَيْنِ فِی جَوْفِهِ)-« خدای دانسان په سینه کی دوه زړونه ندی ایښولی. سوره احزاب آیه ۴».نوځکه امکان نلری چی یوه زړه له خدای سره مینه ولری اوپه هماغه ډول له مخلوق سره، داسی زړه چی دنیا ته پام ولری اوهم آخرت ته. که زړه خدای ته متوجه وی اوپه ظاهره خلق ته دټولنیزومصالحو لپاره نو اشکال نلری.
که جاهل نفاق اوریاء درلوده، په دی اندازه مهمه نده که عالم چی په ریا اونفاق خبردی اوددی اوصافودرلودونکی وی.جاهل عصیان کوی ولی عالم ددی عصیان په مضاروخبردی،لذا باید مطیع وی. هغه چی ددنیا دمال په ټولولو پسی حریص دی، دریا اونفاق په واسطه دی چی په وجود کی یی ریښی ځغلولی دی، اوڅوک چی دنفس مهارپه لاس کی لری، له دی مذمومو صفاتوڅخه پاک دی.
مومن دفرایضوپه ترسره کولو سره خدای ته نیږدی کیږی، ولی ریښتینی بندګان نوافل یوازی دنوافلواوغیرواجباتوپه ډول نه ترسره کوی بلکه ټول غیرواجب عبادات خپله وظیفه ګڼی، نوځکه ویلای شوچی نوافل نلری، هرڅه چی دی

وظیفه دی اوتکلیف، ددخدای دوستانو لره داسی معلم دی په باطن کی چی ورته زده کړه کوی، اوداسی هوشداروړکونکی دی چی هغه هوښیاروی، اومتعال خدای هم ټول وسایل ورته مهیا کوی، پیغمبراکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (لَوْ اَنَّ الْمُوْمِنَ عَلَی قُلَّةِ جَبَلٍ لَقُیِّضَ اللهُ لَهُ عَالِمَاَیُعَلِّمُهُ)-«که مومن دغره په څوکه هم وی نو متعال خدای به ورته معلم مقررکړی چی ورته لاره وښیی».

دصالحینو ویناوی مه عاریه کوه اوپه هغو تکلم مه کوه اوځان ته یی نسبت مه ورکوه، عاریتی شی نه پتیږی. دخپل مال څخه ګټه پورته کړه نه دنورو له مال څخه.په خپل لاس پنبه وکره، اوبه یی کړه، تاویی کړه اوټوکرتری جوړکړه بیایی واغونده، مراد دادی چی تل دخپل لاس اورنځ اوزحمت څخه ګټه پورته کړه، نه دنورو دکاراوزحمت څخه، په هغه څه چی په لاس کی یی لری خوښ اوسه، اودنورو لاسونو ته دطمع په سترګومه ګوره.

هرکله که ددنوروکلام په ځان پوری نسبت ورکړ، اوپه هغه موتکلم وکړ،دصالحو بندګانو زړونه به دتاسوپروړاندی په غصه شی، که دعلم درست نه وی، ګفتاربه دی هم بی ارزښته وی، ځکه هره خبره دعمل پربنسټ استواره ده، متعال خدای فرمایلی: (اُدْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا کُنْتُمْ تَعْمَلُونَ)-«دخپلواعمالوپه پاداش سره جنت ته ننوزی. سوره نحل آیه ۳۷».

دخدای په پیژندنه کی زیاروباسی، کله چی دخدای پیژندنه حاصله شی، شخص به له ځانه غایب، اودحق دقدرت اوعلم په عظمت کی به فانی شی. پوه شه چی ستاوینا دهغی څه نښانه ده چی په زړه کی دی شتون لری، اوژبه دزړه ترجمانه ده. دزړه دعدم ثبات نښه داده چی وینا کله صحیح اوکله باطله وی، اوژبه ددی باطل په بدلولو سره قادره نده، ولی هرکله که زړه ثبات وموند، ژبه به هم په صلاح راشی. که زړه له شرک تش و، دهغی ژبه اووینا صحیح ده او درسته، اوکه شرک په زړه کی رخنه کړی وه،کلام به هم ددرواغو اوخطا رنګ وَمومی.

دویناوالو اوسخنورانوله ډلی داسی کسان شته چی له زړه خبری کوی، اونورله سِراوباطن څخه، اودځینونورو وینا خودنفس دهوا اوشیطان څخه نشات کړی دی.

**لویه خدایه، مونږ دمومنانو په لیکه کړه، اودمنافقانو له ډلی مو مه ګرزوه. آمین!**

هوښیاراوسه چی که ددچاپروړاندی په ځان کی دمحبت احساس وکړ، اویا دبل پروړاندی بی محبته وی، چی دنفس دهوا اودخپلی غوښتنی له مخی نه وی، بلکه باید دنوروپروړاندی خپل بغض اومحبت دکتاب اوسنتو په تله وسنجوی، که دڅوک تابع دشرعی ولیدل، دهغی سره په محبت کی پایداره اوسه، اوکه ددشرعی مخالف ولید له هغی لیری شه اوپه مخالفت یی راولاړشه.په هرحال باید حب اوبغض دی دخپلومقاصدو دترسره کولو لپاره نه وی، په دوستی اودښمنی کی یوازی دخدای رضا په نظرکی نیسه اوبس.هرکله که ددچاپه مورد شک درلود نو دصدیقینو زړونو ته مراجعه وکړه، ځکه ددوی زړونه دصفا اودخدای دحب څخه ډک دی اوله هرچا څخه دوی خدای ته نیږدی دی، اوداپه دی خاطردی چی هغوی په کتاب اوسنتوعمل کړی- نه په خپلوامیالو اوهوا اوهوس، نوځکه دی چی دعلم په اسراورییی لاس موندلی، اودحق اوباطل په تشخیص کی توانا دی. هرمومن انسان لره یونورپه زړه کی شتون لری چی پری وینی، اوپه دی علت دی چی پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (اِتَقُوا فِرَاسَةَ الْمُومِنِ فَاِنَّهُ یَنْظُرُ بِنُورِاللهِ عَزَّوَجَلَّ)-«دمومن دفراست اوزیرکی څخه پرهیزوکړی، ځکه هغه دخدای دنورپه وسیله لیدنه کوی» مقرب عارف لره هم نورشته، چی دخپل قرب مقام دحق پروړاندی پری ګوری، اودحق دحب میزان هم په خپل زړه کی په هغی وینی، اودغه ټول مواهب دباطن دپاکوالی په وجه دی، اودزړه په تل کی ځای لری. عارف تل دحق دقرب پواسطه په نشاط اوخوښی کی دی، اوله خلق څخه بیل اوحق ته وصل شوی دی.

ځینی دل آګاه اوژبوردی، اوځینی دل آګاه ولی پخ ژبی دی، ولی منافق ژبوردی اوړوند زړی، ټول علم اوایمان یی په ژبه دی، ددی اصل پربنسټ پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (أَخْوَفُ مَا اَخَافُ عَلَى اُمَّتِى مُنَافِقٌ عَلِيْمُ اللِسَّانِ)-«هغه څه چی ماډیر دامت په هکله ویروی، ژبورمنافق دی».

په څه شی باندی زړه مه تړه، خدای پاک فعال مایرید دی، ټول شیان دده دقدرت په لاسونو کی دی، له دی کبله یوه دصالحینو څخه روایت کوی چی «یوه ورځ ددینی ورور لیدو ته ورغی اوویل: ای وروره راځه چی په خپل حال وژاړو، ځکه نه پوهیږو چی خدای پاک به له مونږ سره څه وکړی».

څومره ښکلی یی ویلی!! اودغه ښکلی وینا له دی کبله ده چی صالح کس خدای پیژنی، اودرسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) وینا یی هم اوریدلی چی فرمایلی دی: (يَعْمَلْ اَحَدُكُم بِعَمَلِ أَهْلِ الْجَنَّةِ حَتَّى لايَبْقى بَيْنَهُ وَبَيْنَها اِلَّا ذِراعٌ اَوْبَاعٌ فَتُدْرِكُهُ الشَّقَاوَةُ فَيَصِيرُمِنْ اَهْلِ النَّارِ،وَيَعْمَلُ بِعَمَلِ اَهْلِ النَّارِ حَتَّى لايَبقِى بَينَهُ وَبَينَها اِلأذِراعٌ اَوْباَعٌ فَتُدْرِكُهُ السَّعادَةُ فَيَصِيرُ مِنْ اَهْلِ الْجَنَّةِ)-« یوځوک له تاسو دجنت اعمال ترسره کوی، داسی چی دده اوجنت ترمنځ یوه لویشت(ذراع) فاصله پاته نشی، ولی شقاوت یی لمن نیسی اودوزخ دیلی څخه ګرځی، اوځوک د اور داهل اعمال ترسره کوی ترڅو دده اودوزخ ترمنځ یوه لویشت واټن پاته نشی، ولکن سعادت ورته مخه کوی اودجنت داهل څخه ګرځی».

له یوه دصالحینو څخه وپوښتل شول چی آیا خدای دی لیدلی دی؟ وویل: که می نه وای لیدلای څرنګه به می مینه ورسره کوله.؟اوس که ځوک وپوښتی چی څرنګه یی خدای لیدلی؟

وایوچی هرکله که په خلکو تکیه کول دی له زړه ووتل اوپرته دخدای دحب اوپه هغه باور، بل څه په زړه کی پاته نشول، خدای ته ورنیږدی کیږی، اودده وجود په زړه کی کاملا احساسوی،همداسی چی رسول اکرم(صلی الله علیه وسلم) دمعراج په شپه الهی اقدس ذات مشاهده وکړه، همداسی چی یوشخص په خوب کی خپل روحی حالاتو نبنی ګوری، اودبیداری په وخت خپلی لیدنی په یادراوړی،بنده هم کله چی یی زړه له تیارو اوککړتیاو پاک شو، دحق دکراماتو ، فیض، احسان اوعنایت شاهد به وی.دهرچاچی بندګی ریښتینی شوه، اودالله په پیژندنه اومعرفت یی لاس وموند، ژبه به یی له چون اوچرا څخه ګنګه شی، نوربه ونه وایی: ماته وکوره اویا مه ګوره، رایی کړه اومه یی راکوه، په ټول وجود سره دخدای په پاک ذات کی مستغرق اوفانی کیږی، په دی هکله یوه له بزرګانو(دخدای رحمت دی پرده وی) ویلی: (زه دده بنده اوعبدیم، اوبنده ته دخپل بادار اوآقا پروړاندی کوم اختیارنشته) حکایت کوی چی : یوه کس یو غلام راونیو، اوهغه غلام ددین اهل و، ارباب ورته وویل، څه ډول خواړه غواړی وخوری؟ ځواب یی ورکړ، چی ته یی راته راکړی، بیایی تری وپوښتل څه ډول جامی غواړی واغوندی؟ وویل چی: هغه څه چی ته یی راواغوندی، بیا یی تری وپوښتل په کوم کنج ددی کورکی غواړی هستوګن شی؟ وویل: هرځای چی تاسو دستورورکړی، وی پوښتل کوم کاردخوښ دی چی ترسره یی کړی؟ ځواب یی ورکړ:هرکارچی تاسو امروکړی، کله چی سړی دغه ځوابونه واوریدل نوپه ژړاشو، اوویل: کاشکی ماهم دخدای پروړاندی همداسی احساس درلودای چی ته یی زما پروړاندی لری. غلام وویل: اربابه! آیا بنده دارباب پروړاندی کوم اختیاراواراده باید ولری؟ ددی خبروتراوریدو وروسته ، سړی غلام ته مخ کړ اوویل، ته می دخدای درضا لپاره آزاد کړی، اوله تاڅخه غوښتنه کوم چی زما سره پاته شی ترڅو ستا خدمت وکړم.

هرچاچی خدای په ریښتینی سره وپیژانده، نورنو له ځانه اراده اواختیارنلری، اودخدای دارادی اوغوښتنی پروړاندی کاملا بی ارادی دی. پس ته هم دده دغوښتنی پروړاندی دځان اونورو په هکله له چون اوچرا(ولی اوڅرنګه؟) څخه تیرشه. ولی یوه اوسه چی یوازی محدود افراد دخدای له بندګانو څخه دی مقام ته رسیدلی دی، له خلکوسره یی پریکړون کړی اوله خالق سره وصل شوی اوله هغه سره یی انس اخیستی، اوتل یی ورد دقرآن تلاوت اودرسول

گرامی(صلی الله علیه وسلم) دوینا اوریدل دی، په پایله کی دخدای سره دمانوس زړه خاوند کیږی،چی هم ځان پیژنی اوهم نور،نورنو له دوی څخه کوم څه پټ نه پاتیږی، اودپردی شا له مسایلو او رمزونو څخه خبریږی.
وای پرتا! عاقل اوسه، اوپه جهالت اونادانی سره داولیاء الله دقوم مزاحم مه گرځه. تا دخدای له کتابه کوم څه ندی زده کړی چی هغه نورو ته وښیی، داهغه کاردی چی دظاهری اوباطنی احکامو پیژندگلوی ته ضرورت لری. اودژوندانه له ټولو تعیناتو اوظواهروڅخه استغنا اوبی نیازی ده. اوباید دوه ضروره هم په نظرکی ونیسی: لومړی داچی که په ښارکی هیڅوک پاته نشی چی دزده کړو چاری پرمخ بوزی، هغه وخت دضرورت په اساس له خلکو سره خبری وکړه، اوبل داچی : هغه څه چی وایی باید زړه دی په هغی مومن وی. ترڅو وکولای شی خلک دخالق پیژندنی ته راهنمایی کړی.
وای پرتا! دعرفان مدعی یی اوځان ته هم عارف وایی، ولی پوه شه چی ته تیاره اوتوریی، دصوفی نښان دظاهراوباطن صفا ده، دصوفی نښان دکتاب اوسنتوڅخه پیروی ده، هرڅومره چی یی صفا ډیریږی، دوجود له گردابه څخه رابهرکیږی اودحق په بی پایه دریاب کی په لامبوپیل کوی، اونورځان دارادی اواختیارخاوند نه بولی.
پوه شه چی دنیکیو اساس اوبنسټ دنبی اکرم (صلی الله علیه وسلم) څخه پیروی ده، څه په وینا اوڅه په عمل کی، اوهرکله که دمومن زړه دسنتوپه ترسره کولوسره صفا ومونده، هغه په خوب وینی چی ورته دځینو امراودځینوڅخه نهی کوی، په دی حال کی یی سرترپایه وجود په زړه بدلیږی،اوخپله ټوله مادی هستی له لاسه ورکوی، اوپرته له هرډول کدورته په صفا بدلیږی، پټوکی اوظاهری برخی پریږدی، اوپه ټوله سره مغزاومعنی گرځی،په زړه اوباطن سره درسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) حضورته حاضریږی، لاس دهغه په لاس کی وینی، چی دزړه دځلا سبب گرځی، اوبالاخره دانبی اکرم(صلی الله علیه وسلم) چی دده مربی اوښوونکی گرځی.
دغرونو سوری کول تیروکلنگونو اومجاهدت اوزیارته اړتیالری، اوباید ډیررنځ اوکړاونه متحمل شو. پس ددنیا دحب لیری کول او دشهواتوربیښی ورکول هم دغره دکیندلو په شان دصبر اومجاهدت کلند ته ضرورت لری.
دهغی څه په طلب کی چی ستا په لاس کی ندی، اونه باید وی، مه گرځه. خوښی دهغه چا په حال چی په دی طریقه سره یی عمل کړی، اودریښتینو مسلمینو په ډله کی ولاړ دی. خوښی دهغه چا په حال چی دقیامت په ورځ دمسلمینو په لیکه کی دی، اوله کافرانو څخه لیری دی. خوښی دی وی دهغه چا په حال چی دجنت په سپیڅلی فضاکی مقیم دی، اوددوزخ داهل دکافرانوڅخه ندی.
سرټیټی اومتواضع اوسه، ځکه تواضع دمقام دلوړوالی، اوتکبردخواری اوخفت سبب دی. پیغمبراکرم(صلی الله علیه وسلم) فرمایلی: (مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ اللهُ)-« چاچی دخدای درضا لپاره تواضع وکړه، خدای دهغه مقام لوړوی.».
هرکله که دحق یاد په کوم زړه کی په دوام شو، دخدای پیژندنی ته به نائل شی، اودتوحید علم ته به ورسیږی، توکل به وهومی،اودخدای دذات له غیرڅخه به اعراض وکړی. دذکردوام اواستمرار ددنیا اوآخرت خیر له ځان سره لری.
هرکله که شخص په صلاح راغی، دایما دخدای په یاد بوخت دی، که په ظاهره یی سترگی په خوب دی، زړه یی ویښ اوذاکره دی. اودغه صفت یی دنبی کریم(صلی الله علیه وسلم) څخه په ارث وړی. روایت کوی چی یوه له صلحاو څخه دشپی ځان خوب ته اړایسته،دعلت پوښتنه یی تری وکړه، وویل: پدی حال کی می زړه دحق په مشاهده بوخت دی. دغسی شخص په قطعی توگه په خپله وینا کی صادق دی، ځکه صادقانه خوبونه ، خدایی الهام دی اودخوب په وخت دی چی ایمان یی ریښتینی ځواک ته لاس رسی پیداکوی.
**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخره حسنه وقنا عذاب النار»آمین.**